# د فخر افغان تقرير

## (يولسم جون د تخت ابادۍ په جلسه کښې)

**اداره**

خوښندو او وروڼو! زما نه مخکښې تاسو ته زما ملګرو ډېرې خبرې وکړې او تاسو ئې ښهٔ پوهـ کړئ. زما د نورو خبرو څهٔ ضرورت نشته، ځکه چې وخت ډېر تېر شهٔ او تاسو خبرې هم ډېرې واورېدې، ولې بيا هم دومره به مو زهٔ پوهـ کړم چې په دنيا کښې قومونو په تشو جلسو او يوا ځې د خُلې په چغو چرې ترقي نهٔ ده کړې. تاسو د دنيا تاريخ وګورئ او ځان خبر کړئ چې قومونو ترقي په کومو خبرو کړې ده. ياد لرئ کوم خلق چې خبرې ډېرې کوي او عمل کم نو هغوي هيڅرې کامياببېدے نهٔ شي، کاميابي هغه خلق کوي چې خبرې لږې کوي او عمل ډېر. نو هم دغسې کهٔ تاسو په خپلو مقاصدو کښې کاميابي حاصلول غواړئ نو څهٔ عملي کار وکړئ. ډېرې خبرې مهٔ کوئ تاسو وګورئ څهٔ موده مخکښې په دې ملک کښې څهٔ حال ؤ، مونږ نهٔ په دې يو شان يو ځائے کېدے شو، نهٔ مو دا سرې جامې اغوستې شوې، نهٔ مو يوه قومي نعره وهلې شوه.

چا چې به د خدائي خدمتګارۍ نوم په خُلهٔ اخستهٔ هغه به وهلے شهٔ، ټکولے به شهٔ او يو بدمعاش به ګڼلے شهٔ او نن هم يو وخت دے چې مونږ بيا يو ځائے کېدے شو، خپلې د زړهٔ خبرې کولې شو، خپل خيالات ظاهرولے شو او نن د خپل قام او ملک خدمت په ازادۍ سره کولے شو. پرون چې به کومو خلقو تاسو ته بدمعاشان وے هغوي راځي او ستاسو د مشرانو (وزيرانو) سلامونه کوي. دا ولې؟ وروڼو! دا هر څهٔ ستاسو د قربانو برکت دے. ستاسو د عمل برکت دے او په دې هم ځان پوهـ کړئ چې دا مونږ څهٔ کوو؟ وروڼو! مونږ انقلاب کوو، دا څهٔ چې وشو دې ته انقلاب وئيلے شي او مونږ انقلابيان يو. هغه تاسو چې به انقلاب زنده باد وې، هغه انقلاب دا دے، ياد لرئ چې انقلاب ته لوئے لوئے غرونه هم ټينګېدے نهٔ شي. تاريخ ګواه دے چې چرې د يو ملک خلقو انقلاب راوستے دے. نو هيڅوک د هغې مقابله نهٔ شي کولے او څوک چې د انقلاب د سېلاب مخې ته راځي هغه لاهو کېږي.




زمونږ دا وروڼه چې نن د انقلاب مقابلې ته ولاړ دي. دوي به يوه ورځ زمونږ په ملګرتيا مجبوره کېږي او کهٔ زمونږ ملګري نهٔ شي نو لاهو کېږي به.

يواځې دوي به نۀ لاهو کېږي. بلکې زمونږ هغه ټول ورونه چې د غفلت په خوب اوده دي او زمونږ دې کار ته لوبې ټوقې وائي هم د لاهو کېدو نه بچ کېدے نۀ شي. اوس دا سوال پيدا کېږي چې مونږ دا انقلاب ولې کوو او دې ته څۀ ضرورت دے؟ نو دا ځکه چې مونږ خوار يو، زمونږ بچې اوږي تږي دي، بربنډ لغړ دي. مونږ بې تعليمه يو، مونږ مفلسان يو، زمونږ د بچو دپاره د تعليم انتظام نشته. زمونږ د رنځورانو دپاره د علاج غور نشته. زمونږ د ملک د خلقو دپاره د هنر کمال زدکړې څۀ فکر نشته. ملک زمونږ دے خزانې زمونږ د ي ولې اختيار پرې زمونږ نشته. دولت زمونږ دے مزې دې نور خلق کوي. گټه مونږ کوو، خوري ئې نور خلق. وطن زمونږ دے، اباد پرې بل قام دے. نو کۀ چرې مونږ انقلاب ونۀ کړو، مونږ د دې خپل حال د بدلولو کوشش ونۀ کړو نو زمونږ عمر به څنگه ښۀ شي؟ پېرنگے خو په اسانه دے ملک پرېښودلو ته تيار نۀ دے. هغه به دا ښکلې ښکلې بنگلې او دا درې درې زره څلور څلور زره روپۍ تنخواگانې څنگه پرېږدي، هغوي به د دې عيش عشرت نه څنگه زړۀ صبر کړي. اوس تاسو خيال وکړئ، دا بې انصافي نۀ ده؟ ظلم نۀ دے؟ چې زمونږ د بچو دپاره دې د تعليم انتظام خو نۀ وي، زمونږ د رنځورانو دپاره دې د علاج بندوبست خو نۀ وي، اود دوي سپي دې فبرنۍ خوري. د دنيا ټولې خوشحالۍ دې دوي ته حاصلې وي، زمونږ نه دې په سرو غرمو خولې بهېږي. گټو دې او دوي ته دې پکے وهلے شي په آرام دې ناست وي، خوري دې. مونږ په دې حالت کښې نور پاتې کېدل نۀ غواړو. مونږ نور دا د سپو نه هم لاندې عمر تېرول نۀ خوښوو. په دې کښې هيڅ شک نشته چې انقلاب ډېر خطرناک شے دے. په دې کښې ډېر تکليفونه پېښېږي. په دې کښې ډېر مصيبتونه مخ کښې راځي. مگر اخر مونږ څۀ وکړو، زمونږ بله لار څۀ ده.

مونږ هر څۀ چې کوو، صرف دې دپاره ئې کوو، چې زمونږ د عامو غريبو خلقو حال ښۀ شي. زمونږ قام د انسانيت په قطار کښې شمار شي. زمونږ د ملک نه دا خواري نيستي ورکه شي. حيله نۀ کوي، لکه تاسو گورئ چې نن په ملک کښې ډېرې نوې نوې ډلې جوړې شوې دي. قسم قسم جرگې ميدان ته راوتې دي، د اسلام د همدردۍ او د ملک د ترقۍ دعوې کوي. مگر تاسو ياد کړئ، چې څۀ وخت په تاسو سختي وه، څۀ وخت چې تاسو وهلې ټکولې شوئ، څۀ وخت ستاسو د کورونو تالاشۍ کېدې، نو دې خلقو تاسو سره څومره همدردي کړې وه. دوي تاسو سره د خپلولۍ کوم ثبوت ورکړے ؤ، هغه وخت خو نۀ يوه ډله وه، نۀ چرته جرگه وه، نۀ ستاسو څوک خپل وو، نو اے زما ورونو! ياد لرئ، چې دا نوې نوې ډلې ستاسو د فائدې دپاره نۀ دي جوړې شوې. دا ټولې د خپلو خپلو غرضونو دپاره جوړې شوې دي. دوست هغه دے چې په سخته کښې د سړي پکار شي. مونږ خو وينو چې په دې ډلو کښې اکثر هغه خلق دي، چې دوي ستاسو دپاره داسې سخت قانون جوړ کړے ؤ، چې ستاسو د زړۀ په خيالاتو هم پابندي وه. په ژبه پابندي او په قلم پابندي وه. خو اوس تاسو په ازادۍ سره خپله ژبه خپل قلم استعمالولے شئ دا ځکه چې د حکومت څۀ اختيارات ستاسو د ورونو په لاس راغلي دي، خدائي خدمتگاران وزيران دي، نو کۀ هم دغسې ستاسو دا وررولي قائمه وي، د خدائي خدمتگارۍ دا پاک تحريک جاري وي، نو يقين لرئ چې ورو ورو به هغه ټول مقاصد پوره شي.

د کومو د پاره چې مونږ کوشش کوو.

خو یاد لرئ چې دا کار یواځې د یو کس نهٔ دے. زهٔ یواځې د دې ذمه وار نهٔ یم، ځان له زما خپل کار نهٔ دے. زما ځان له کار خو به هله وے، چې ما په تاسو خپل ذاتي کار کولے. لکه ما په تاسو لۀ غوبل کولے، ګوډ چارۍ مې کولې، ما ستاسو نه څهٔ ملکانه شکرانه غوښتلې او بل دا کار ځکه یواځې زما نهٔ دے، چې د دې ملک خو یواځې زهٔ مالک نهٔ یم. زمونږ د ټولو شریک ملک دے، فائده د ټولو ده، نقصان د ټولو دے. نو هم دغسې د ملک خدمت هم په ټولو یو شان فرض دے، کهٔ ګټه وشوه د ټولو به وشي. کهٔ نقصان کېږي د ټولو به کېږي. بعضې خودغرضه خلق وائي چې دوي هندوان شوي دي او دوي خو د کرایې ټټوان دي، نو تاسو لږ په دې خبره فکر وکړئ چې واقعي مونږ هندوان شوي یو، یا د کرایې ټټوان یو. مونږ خو الحمد لله ښهٔ سُوچه مسلمانان یو او داسې مسلمانان یو چې خپل اسلام په هیڅ قیمت خرڅولو ته تیار نهٔ یو او کهٔ مونږ خپل ایمان په پیسو خرڅولے نو روپۍ خو پېرنګي سره ډېرې دي، د پېرنګي نه به مو روپۍ اخستې وې.

ورونړو! دا ټولې د دښمنانو پراپېګنډې دي، نهٔ مونږ هندوان یو او نهٔ د هندو د پاره خپل ایمان پرېښولو ته تیار یو. البته مونږ د هندوانو سره په موجوده د ازادۍ جنګ کښې یوځائے شوي یو. ځکه چې مونږ هم محکوم یو، هندوان هم محکوم دي. مونږ هم مظلومان یو، هندوان هم مظلومان دي. زمونږ حقوق هم پېرنګي لاندې کړي دي، د هندوانو هم، نو دا قوي امید دے کهٔ چرې مونږ او هندوانو په شریکه د پېرنګي مقابله وکړو نو کامیاب به شو او دا به کومه د عقل خبره وي چې مونږ پېرنګے په ځائے پرېږدو او هندوانو سره جګړه شروع کړو. اخر دا فکر پکار دے چې دا ملک زمونږ نه هندو اخستے دے کهٔ پېرنګي؟ په مونږ حکومت د هندو دے، کهٔ د پېرنګي. په ملک کښې قانون د هندو چلېږي کهٔ د پېرنګي. تاسو د اسلام تاریخ وګورئ چې رسول الله صلي الله علیه وسلم د خپل دښمن د مقابلې د پاره د یهودیانو او عیسایانو سره جوړه کړې وه او د هغوي د پاره ئې جنګونه هم کړي وو. نو هم دغسې کهٔ مونږ نن د خپل طاقت زیاتولو د پاره د هنداونو سره جوړه وکړو نو څهٔ باک دے؟

> **دا به کومه د عقل خبره وي چې مونږ پېرنګے په ځائے پرېږدو هندوانو سره جګړه شروع کړو**

یاد لرئ اے ورونړو! دا ټول کوشش د پېرنګي دے چې زمونږ دا وررولي ورانه کړي او دا ټول اعتراضونه د پېرنګي په صلاح په مونږ کېږي او په دې کښې لګیا دي چې زمونږ دا کور چې څهٔ لږ ډېر جوړ شوے دے بیا وران کړي، ولې کهٔ تاسو د عقل نه کار واخست، د خپل دوست دښمن تمیز مو وکړو، خپل سود او زیان مو وپېژندلو نو د دښمن نه زمونږ هیڅ خطره نشته، مونږ ته هیڅ نقصان نهٔ شي رسولے.

په اخر کښې به زهٔ تاسو ته ووایم چې د خدائے د پاره خپلې پرې جنبې پرېږدئ، ټول یو شئ او په رښتیني معنو کښې خدائي خدمتګار جوړ شئ او دنیا ته ثابته کړئ چې پښتون او غلامي دوه جدا جدا څیزونه دي، یو ځائے کېدے نهٔ شي. و اخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین.

(پښتون اتمانزي ۱ اګست ۱۹۳۸)